# دمارچ اتمه

افغانی غمجنو خویندو غلیمان مو خپل رسوا کړی
پخپل مټ آزادی واخلی تورحجاب له مخ خطا کړی
******

د نړی په نور ملکوکی دغه ورځ ښه لمانځل کیږی
په تحفو اوپه ګلانو ښځی او پیغلی ستایل کیږی
مګر ستا مادر وطن کی د باروتو لوږی خیژی
څو نامردافغان قا تلو په وژلو نه مړیږی
هره ورځ ستا ځوی ، ستا پلار ستا میړه وژل کیږی
په سروو ینوخپل رنګین، کور ته مړی راوړل کیږی
خویندو پاخیږی یوتن شی پرغلیم جوړ کربلا کړی
پخپل مټ آزادی واخلی تورحجاب له مخ خطا کړی
******

د با دغیس د خلک په مخ کی د دُری په ګذارونه
د هغه پاکی معصوم ښځه ملا توی کړ عزتونه
معصوم ښځه علی آباد کی تور سپی سره بدل شو
پرعربوکنډی خرڅ کړل قوماندان ملا چی غل شو
د ملا کوم یو نادودی درته وخیږمه خویندو
ملاتل لری کرکه هم له ښځو هم له میندو
د عربو دا نوکر زر له خپل خلکو جدا کړی
پخپل مټ آزادی واخلی تورحجاب له مخ خطا کړی

*****

ځوچې وسه مو رسيږي لار کړې پاک خپل بچو ته
د ښمن لرې کړې له مخه ستونزې مه پرېږدې لمسو ته
دغه ورځ چې تا سې لمانځې په لاس مفت ندي راغلي
شيکاګو کې آزادښځې په دې لار کې سر ښيند لي
دا د ښځو د پاڅون ورځ ټولو تا سو ته تبريک وي
د ملال، ناهيد، روح ښا د وې جنتونه يې شريک وي
وايم تاسو ته زه (مل) پرد ښمن ټول جوړغوغا کړې
پخپل مټ آزادي واخلي تور حجاب له مخ خطا کړې

******

پوهندوی دوکتورسيدحسام(مل)
جرمنی ۲۰۱۰-۳-۳